د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# پښتو

## اتم ټولګی

## (د دري ژبو له پاره)




د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـــ . ش.

د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا او

درسي کتابونو د تاليف رياست

# پښتو

# اتم ټولګی

# (د دري ژبو له پاره)

درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

د چاپ کال: ۱۳۸۸هـ. ش.

# دبيا كتني كمېټه

## د ژبې او محتوا كمېټه:

ـ سيد احمد مومند د پوهنې وزارت سلاكار.

ـ د مؤلف مرستيال محمد عزيز تحريک د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارتمنټ علمي او مسلكي غړی او د پښتو ديپارتمنټ آمر.

ـ ميرويس ځدراڼ د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارتمنټ علمي او مسلكي غړی.

ـ عبيد الله همت د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارتمنټ علمي او مسلكي غړی.

ـ د مؤلف مرستيال فيض الله فائيز د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارتمنټ علمي او مسلكي غړی.

## ديني، سياسي او فرهنگي كمېټه:

ـ ډاكتر محمد يوسف نيازی د پوهنې وزارت سلاكار.

ـ محمد آصف ننگ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئيس.

ـ سيد ابراهيم د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رياست د اسلامي تعليماتو علمي او مسلكي غړی.

ـ د مؤلف مرستيال محمد سهراب ديدار د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارتمنټ علمي او مسلكي غړی.

# د څارنې كمېټه:

ـ دكتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب د پراختيا، د ساينس مركز او د خپرونو مرستيال. دكمېټې رئيس

ـ محمد صديق پتمن د پوهنې وزارت تدريسي مرستيال. غړی.

ـ د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستانی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رئيس. غړی.

## كمپوز او ډيزاين:

ـ صفت الله مومند


بسم الله الرحمن الرحيم

# پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت د کلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام لـه پېل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغـاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نـوو پروګرامونو تګلاره پېل کړې ده. د ښوونې او روزنـې پـه برخـه کـې او د معـارف د نـوي کیـدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښـتینو او د پیـاوړو مـسلمانانو پـه توګـه د نـوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سـواندې لارښـوونې چـې تـر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتـابونو د تـالیف ریاسـت تـه دنـده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړې او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخـو پـه رڼـا کـې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځـواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیـار شـوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپـوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختـګ سـره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شـوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د سـاینس او تکنـالوژۍ لـه بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونـو د سـاتنې، سـولې، هېوادپـالنې، ملـي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخـې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلـو او پیـاوړي کولـو کـې مرسـتې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکـو هېوادونـو او درنـو سـازمانونو (د امریکـا د متحـده ایـالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانـک اویونیـسکو)څخـه چـې دکتـابونو پـه تـالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانـو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو پـه ښـه سـاتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# لړلیک


| سرليک | مخ |
|---|---|
| حمد | ۱ |
| نعت | ۲ |
| حکايت | ۳ |
| علم | ۵ |
| شعر | ۷ |
| دبشر حقونه | ۸ |
| مېږه او لېوه | ۱۰ |
| پښتو الفبا | ۱۲ |
| نشه يي توکي | ۱۳ |
| ښه حاکم | ۱۵ |
| شعر | ۱۶ |
| غوره ويناوې | ۱۷ |
| زده کوونکو ته | ۱۸ |
| متلونه | ۱۹ |
| روغتيا | ۲۰ |
| کينه او رخه | ۲۲ |
| رښتيا | ۲۵ |
| وايي چې | ۲۷ |
| ملي يووالی | ۲۸ |
| له هېواد سره مينه | ۲۹ |
| مېلمه پالنه | ۳۰ |
| د چاپېريال ساتنه | ۳۲ |
| نصيحتونه | ۳۴ |
| صبر او زغم | ۳۵ |

| سرليک | مخ |
|---|---|
| سيد جمال الدين افغان | ۳۷ |
| زما وروره بزګره | ۳۸ |
| انترنيټ | ۴۰ |
| د راز ساتنه | ۴۲ |
| کولالي | ۴۴ |
| سوله | ۵۰ |
| د هيلو پسرلی | ۵۲ |
| د بې اتفاقۍ پايله | ۵۳ |
| د فکر او خيال قوت | ۵۴ |
| شعر | ۵۷ |
| د کال څلور فصلونه | ۵۹ |
| بلنليک | ٦۲ |

# حــمــد

پە نامە دهغە خدای ﷻ مـې دابیان دی

چې یو نوم یې پە نومونو کې سبحان دی

هم پـادشاه دی د جـملە و پادشـاهـانو

هم د هـــر یوه سلطان پە سر سلطان دی

هغە کار چې وهر چـا وتە مشکـل دی

هـغـــە کـار واړه ودە وتــە آســان دی

څوك آفتاب شـي پە آسمان راخیژولی؟

دە آفــتـاب راخیـژولی پـــە آسمان دی

څوك د لمر پە مخ حجاب شي غوړولی

دە پټ کـــړی لمر پە ابرکې پنهان دی

(رحمان بابا رح)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د حمد بیتونه زده کوونکو تە معنا کړي.
- لە دې لغتونو څخە جملې جوړې کړئ: غوړول، واړه، خېژول.
- پورتنی نظم پە نثر واړوئ.

# نعت

د خدای ﷻ عرفان مې وشو په عرفان د محمد ﷺ
پاك دی محمد پاك دی سبحان د محمد ﷺ

راشه نظر وکړه په طه په یاسین باندې
خدای ﷻ دی صفت کړی په قرآن د محمد ﷺ

ډېر خلك پیدا دي انبیاء که اولیاء دي
نشته په خلقت کې بل په شان د محمد ﷺ

ډېرخلك که یو کړي انس وجن دواړه جهانه
لاتر واړو به دی ګوښی ځان د محمد ﷺ

شط د رود نیل[1] که د موسی په حکم وشو
شق د قمر وشو په فرمان د محمد ﷺ

دور د ناقوس که یو ځو وخته و فاني شو
تل به ترقیامته وي اذان د محمد ﷺ

لاس دی لګولی ما "خوشحال" په دواړه کونه
غم اندوه مې نشته په دامان د محمد ﷺ

(خوشحال خان خټک)

---

۱. که څه هم دفرعون او د هغه د قوم غرقېدل او هلاکېدل د زیاترو شاعرانو او د تاریخ د ناقلینو په ویناوو کې رود نیل ښودل شوی دی خو حقیقت دا دی چې د قرآن عظیم الشان په وینا په "بحرقلزم" غرق او هلاك شوی دی.

۲. طهٰ او یاسین شریف دوه سورتونه دي چې د حضرت محمد ﷺ په وصف کې راغلي دي.

۳. او د شط کلمه د پرېکولو، او دوه ځایه کولو په معنا ده.

# حکایت

د پسرلي ورځې او د کار وخت و. یو سپین ږیری بزګر د خپلې ځمکې په شاوخواکې ګرځېده او نیالګي یې ایښودل. د ده عمر تر شپېتو کلونو تېر و، د چا خبره د ګور په غاړه ولاړ و، خو د ده په همت کې څه بدلون نه و راغلی. ده په دغه وخت کې هم کار کاوه. دی د نیالګیو په ایښودلو بوخت و چې نا څاپه یو پاچا په اس سپور راغی او دسپین ږیري مخې ته ودرېده، پاچا له سپین ږیري څخه پوښتنه وکړه چې ستا عمر خو اخر ته رسېدلی دی او څرګنده ده چې ته د دې نیالګیو مېوه نه شې خوړلی او نه یې سیوري ته کښېناستی شې. نو ولې دومره زیار باسې؟

سپین ږیری چې دښه فکر خاوندو سمدلاسه یې ورته وویل: "پخوانیو نیالګي ایښودلي وو، چې موږ یې مېوه خورو او سیوري ته یې کښېنو، نو موږ هم باید نیالګي کښېنوو چې زموږ راتلونکی نسل ورځنې ګټه واخلي. پاچا ته د سپین ږیري خبرې خورا خوند ورکړ، څه پیسې یې د انعام په ډول ورکړې. سپین ږیری په خندا شو او ویې ویل: د نورو نیالګي څو کاله وروسته مېوه ورکوي،

مګر زما نیالګیو همدا اوس مېوه ونیوله او د خپل زیار نتیجه مې ولیدله، هغه پاچا په دې خبره څه نورې پیسې هم ورکړې او ډېره مهرباني یې ورسره وکړه.

سپین ږیرى بیا په خندا شو او ویې ویل: د نورو خلکو نیالګي په کال کې یو ځل مېوه نیسي، مګر زما نیالګیو په یوه ورځ کې دوه ځلي مېوه ونیوله، نو زه به ولې نیالګي نه کښېنوم او په دې لاره کې به زیار نه باسم.

کـار وکـړه او ډاډه اوســه چې تــل بــه بریـالى یې
هــر چیرته چې کار وي، هلته غریبي او بې وزلي نه وي.
که تاسو ځوانان نیالګي کښېنوئ میوه به یې څوک خوري؟
او سیورې ته به یې څوک کښېني؟

# علم

پوهه دانسان دسعادت او نېکمرغۍ سبب ګرځي له دې امله داسلام ستر پیغمبر رسول اکرمﷺ دعلم په اړه داسې فرمایلي دي چې : «دپوهې زده کړه پرهر مسلمان نرینه او مسلمانې ښځې فرض ده.» همدارنګه وایي چې له زانګو څخه تر ګوره پورې دعلم په زده کړه کې کوښښ او هڅه وکړئ.

لکه څنګه چې سړی د لمر او سپوږمۍ په رڼا لار ویني ، له ګړنګونو څخه ژغورل کېږي او په سمه لاره تر یوه ځایه رسېږي همدغه ډول د علم او پوهې په رڼا کې انسان ته د ژوندون ښې لارې پیدا کېږي خپل مقصد او موخې ته رسېږي. انسان باید له پوهې سره مینه ولري او په دې پوه شي چې بې علمه انسان دړانده په څېر دی، داځکه چې ړوند له یوې خوا سمه لارنه ویني او له بلې خوا د ژوندانه په ټولو چارو کې نورو انسانانو ته اړوي.

همدارنګه ناپوه انسان هم دخپلې بې علمۍ او نا پوهۍ په سبب دخپل ژوندانه په ټولو کارونو کې نورو انسانانو ته اړ وي.

د هر شي په ښه والي او بدوالي کې خلك خبرې کوي چې ځینې کسان ورته ښه وایي او ځینې یې بد بولي، خو دعلم او پوهې په ښه والي کې هېڅوك شك نه لري. که سړی له هر چا څخه پوښتنه وکړي چې پوهه څه ده هغه به یې هرومرو ښه والی ومني او وبه یې ستایي که څه هم په ټکي به نه پوهیږي او هېڅ به یې نه وي

لوستلي. د دې له پاره چې له يوې خوا د خدای ﷻ او دحضرت محمد ﷺ په اوامرو باندې په سم ډول سره ځان پوه کړو او لکه څنګه چې ښايي په همدغه ډول يې سرته ورسوو او له بلې خوا په ژوندانه کې د نورو خلکو له اړتياوو څخه خلاص شو، نو اړيو چې په زده کړه کې هلې ځلې وکړو او ورپسې وګرځو.

که سپين او سره يې په کور کې تل وي
چې نه يې علم نه يې عمل وي
بنياد يې نشته اخر به خوارشي
بخت به ترکومه ورسره مل وي

(عبد القادر خان ختټك رح)

---

سپارښتنې:
ګرانو زده کوونکو!

- آيا پوه او نا پوه يو شان دي؟ په ګروپي شکل خبري پرې وکړئ.
- دعلم په اړه دحضـــرت محمـــد ﷺ احاديث ياد او نورو ته يې ورسوئ.

# شـــــعر

علميت زېب او زينـت دی هـر انسان ته
جهالـت لوی مصيبت دی هر انـسان ته
تل دپوهې پسې ګرځـه په هر ځای کـې
کسب او علم ښه دولت دی هر انسـان ته
که څوك پت او سعادت وځان ته غواړي
علم پـت او سـعادت دی هـر انـسان تـه

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| زېب | ښکلا |
| مصيبت | غم |
| سعادت | نېکمرغي |
| پت | عزت |

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې پورته لغات په پښتو جملو کې استعمال کړي.
- له زده کوونکو وغواړئ چې پورتنی شعر يادکړي. په خپل وار او نوبت سره يې په ټولګي کې ولولي.

# د بشــــر حقــــونه

انسان یو ټولنیز مخلوق دی اوپاك خدایﷻ ورته داشرف المخلوقات خطاب کړی دی. همدارنګه انسان دی چې دځمکې پر مخ دخلیفه حیثیت لري خدایﷻ انسان داسې پیداکړی چې دهغه په وجود کې د خیر او شر دواړه قوتونه او ارزوګانې شته. دخیر د قوتونو په بنیاد نورو ته د خیر او ګټې رسول او خپلو خلکو سره مرسته او همکاري او په ښو چارو کې ملګرتیا ده خو د شر قوتونه خپلو همنوعانو باندې ظلم او تیری کول، د نورو دحقونو بې دلیله غصبول، په نورو ځان لوړګڼل، وژنه، غلا او په پای کې ټول هغه غلط او منفي کارونه دي چې انسان یې سر ته رسوي. د اسلام مقدس دین ټل په دې ټینګار کوي چې هیڅوك پر بل چا او د بل چا پر حقونو تیری ونه کړي ځکه چې ټول انسانان برابر پیداشوي دي.

ټولنه چې له افرادو څخه جوړه او فرد یې جز دی نو هر وګړی ګڼ شمېر حقونه لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- د ژوند حق: دیوې ټولنې ټول وګړي حق لري چې مشروع کسب او ازاد ژوند وکړي.

۲- د زده کړې اوتعلیم حق: هر انسان نر وي او که ښځه، تور وي که سپین، ټول د ټولنې غړي او د زده کړې او تعلیم حق لري.

۳- د بیان د آزادۍ حق: هرڅوک په اسلامي ټولنه کې دخپل نظر د وړاندې کولو او بیانولو حق لري.

**۴- دکارکولو حق:** هر څوک حق لري چیگ له خپل ذوق او استعداد سره سم کار او کسب تر سره کړي.

**۵- دشخصي ملکیت حق:** هر فرد حق لري چې په روا لاره مال، ځمکه، کور، پیسې او نور هر څه پیدا کړي اوځانته یې وساتي.

**۶- د سیاسي آزادۍ حق:** دټولنې هرغړی د قانون په چوکاټ کې د سیاسي فعالیت حق لري.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د انسان د حقونو په باب له زده کوونکو څخه وغواړي چې په وار سره خبرې پرې وکړي.
- زده کوونکي دې د بشر نور حقونه چې په کتاب نشته په وار سره بیان کړي.

۱٦ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

# د حقونو او حیثیت له اړخه برابري

د انسان کرامت د اسلام د سپیڅلي دین له مخې، که د هغه په ژوند کې وي که له مرګ څخه وروسته وي ، په خپل ځای ساتلي شوي او د هغه هیڅ ډول سپکاوي ر وا ندي، په صحیح بخاري کتاب کې راغلي دي: یوه ورځ پیغمبر(ص) له خپلو یارانو سره په یوه ځای کې ناست وو، چې یوه جنازه یې له خوا سره تېره شوه، د جنازې د تېرېدلو په وخت حضرت پیغمبر(ص) یې د درناوي په خاطر پاڅېد، یاران یې هم ودرېدل، د جنازې له تېرېدلو وروسته یې یارانو ورته وویل: دغه د یوه یهودي جنازه وه، پیغمبر(ص) په ځواب کې ورته وفرمایل:(آیا انسان نه ؤ؟)

١٦ جوزا ١٣٨١
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

*د دواړو رضائيت (ښځه او نارينه) دميرمنې او ميړه په تړاکلوکې دکورنۍ او ټولنې سلامتي ده.*

.............................................

کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.

(دافغانستان داساسي قانون له څلورپنځوسمې مادې څخه)

کورنۍ دټولنې دجوړولو ستنه ده او واده کول د هغې بنسټ جوړوي، نوځکه ښځې او نارينه د واده کولو حق لري او هيڅ داسې يوبنديز چې دنژاد، رنګ او ياهم دقوم له مخې وي، نشي کولای چې د دغه حق مخه ونيسي.

(دبشري حقونو داسلامي اعلاميې پنځمه ماده، دالف بند)

# مېږه او لېوه

يوې تورې مېږې يوه ورځ سر ټيټ نيولی و، په خپلو ځرلو لګياوه کله يې چې سر جګ کړ ګوري چې له خپلې رمې او شپانه څخه ډېره لرې پاتې شوې ده. په همدې وخت کې يو وږی لېوه د مېږې په لور راروان و د لېوه سترګې داسې ښکاره کېدلې لکه له سرو وينو څخه ډك جامونه، د لېوه په ليدلو سره مېږې وويل: سه سه سلام عليکم، لېوه خپل غاښونه وچيچل، په ډېر غرور سره يې وويل: سلام، خپلې خبرې يې داسې پيل کړې او مېږې ته يې وويل:

دلته څه کوې؟ خبره نه يې چې دغه ملك يا سيمه ماته له نيکه څخه په ميراث کې را پاتې ده؟

نو چې ته دلته بې پوښتنې راغلې يې نو زه به دې هم وخورم...

مېږه پوه شوه چې له سختې ستونزې يا مرګ سره مخ شوه فکر يې وکړ چې داسې څه بايد وکړي چې له مرګ څخه خپل ځان وژغوري. تر ډېر غور وروسته يې لېوه ته وويل: رښتيا خبره دا ده چې زما باور نه کيږي چې دغه سيمه به تاته له خپل نيکه څخه ميراثي پاتې وي نو د دې له پاره چې زما باور وشي ښه به دا وي چې په لوړ اواز قسم وخورې نو بيا به زما باور راشي چې دا سيمه ستاسې ده.

لېوه ګومان وکړ چې مېږه ډېره ناپوهه ده پرېکړه يې وکړه چې په زوره به ورته لوړه وکړم بيا به يې له هغه څخه وروسته وخورم. ليوه وغوښتل چې لوړه وکړي نو يې خپل غږ پورته کړ هلته نږدې د رمې سپي ويده و له خوبه را ويښ شو. ورو، ورو لېوه ته ورنږدې شو په لېوه يې ور ټوپ کړ. لېوه يې له مرګ څخه ټينګ ونيو. مېږه له مرګ څخه وژغورل شوه. وروسته يې له ځانه سره وويل چې بيا به بې پروايي نه کوي له خپلې رمې څخه به لرې نه پاتې کيږي.

---

سپارښتنې:

- زده کوونکي دې د پورته کېسې په باب يو د بل څخه پوښتنې وکړي.
- زده کوونکي دې په ټولګي کې ددې کېسې په شان نورې کېسې ووايي.

# پښتو الفباء

۱- په پښتو ژبه کې دالفبا ۴۰ توري کارول کېږي او په لاندې ډول دي:

۱ ،ب، پ، ت، ټ،ث،ج، چ، څ، ځ،ح، خ، د ، ډ ،ذ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ،ص،ض،ط،ظ، ع، غ،ف،ق، ك، ګ،ل،م،ن، ڼ،و،هـ،ی،

په دغو توروکې (۳۲) توري دپښتو، دري او عربي تر منځ ګډ (شريك) دي او نور اته توري يوازې په پښتو کې راځي په دري او عربي ژبو کې نه راځي هغه دادي:

ټ،څ،ځ،ډ ،ړ ،ږ،ښ،ڼ.

۲- په پښتوکې دعـربي ژبې لس توري په پور (مستعار) ډول کارول کېږي خو دپښتو په کلمو کې دغه توري نه راځي او که په کومه کلمه کې راشي نو هغه به اصلاً پښتو نه وي.

په کلموکې د پښتو د الفبا تورو مثالونه دا دي:

آس، باغ، پلار، تود ، ټولګی، جامې، څوکۍ، ړوند ، زنه، ډبره، کوڼ، ژبه، ږلۍ، سترګه، شپه، ښځه، کور، کوټه او داسې نور.

---

لغتونه: معناګانې:

| | |
|---|---|
| مستعار | هغه کلمې چې په پور اخيستل شوې وي. |
| اصلاً | له (بيخه) – له بنسټه، له ريښې |

سپارښتنې:

- له زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې دالفبا توري له ياده ووايي.
- ښوونکی دې د پښتو څلور کومکي توري (ا، و، ی، ه) زده کوونکوته ور وپېژني.

# نېشه يي توکي

نېشه يي مواد ياتوکي هغه دي چې کارول يې په بدن کې د روحي او جسمي فعاليتونو د بدلون سبب ګرځي. دغه توکي له ډول ډول بوټو څخه جوړېږي او د نېشه يانو له خوا په بېلابېلو ډولونو کارول کېږي. هر يو يې په خپل ځای زيات تاوانونه لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

ترياك چې د کوکنارو له بوټو څخه لاس ته راځي او بيا له همدغو ترياکو څخه هيرويين هم جوړ وي، له ډېرو زمانو راهيسې يې خلك پېژني او په غلطۍ سره کله کله ور څخه د درد يا ټوخي د مخنيوي له پاره هم کار اخلي.

خو تر ټولو بده دا ده چې ځينې ميندې يې خپلو وړو ماشومانو ته د هغوی د ارامولو له پاره ورکوي چې ويده شي او د خپلې سوکالۍ او ناپوهۍ له امله د ماشوم وجود ته زهر ننه باسي. چې دا عمل يې په راتلونکې کې په نېشه يي توکو باندې د ماشوم په اخته کېدلو کې ستر رول لري.

او کله کله داسې هم پيښ شوي دي چې د همدغو ترياکو په وسيله مور د خپل ماشوم ژوند له لاسه ورکړی دی، بله خطرناکه ماده چرس دي چې د بنګو له بوټو څخه جوړېږي. چې ورباندې اخته خلك يې په

چلم او يا سګرټ کې څکوي او حتی ځينې يې خوري چې د ليونتوب او سرطان د ناروغۍ په شان ناوړه پېښې را منځ ته کوي.

شراب هم يوه بله نښه کوونکې ماده ده چې له مېوو او ځينو حبوباتو څخه وروسته له هغه چې وراسته کړل شي، جوړېږي. له تاوانونو څخه يې د وجود د ځينو غړو لکه د معدې، ينې او بډوډو د خرابوالي او هم د دماغي او جسمي فعاليتونو دسستوالي او کموالي سبب کېږي.

د تمباکو استعمال هم په خپل ځای تاواني اوخطرناك دی. چې ځينې خلك يې په چلم او سګرټ کې استعمالوي يا ورڅخه نسوار جوړوي. سر بېره په نورو تاوانونو د سرطان د ناروغۍ د پيداکېدو ستر عامل هم همدا د تمباکو لوګی دی.

لنډه دا چې د هر ډول مخدره موادو استعمالول د اسلام له نظره مردود عمل دی او الله ﷻ ورته د شيطان عمل ويلی دی.

---

سپارښتنې:

- دې زده کوونکي دې دنښه يي توکو د استعمال په تاوانونو په وار سره خبرې وکړي.
- که څوک نشه کوي پای به يې څه وي؟ زده کوونکي دې په وار سره ځوابونه ووايي.

# ښه حاکم

هغه چې نه نفس لري نه نفسي خواهشات. نه يې په زړه کې ډارشته نـه طمع.

نـه لـه موقـوفـۍ ډارېـږي نـه د ترفيـع پـروا لـري. نـه رشــوت اخـلــي، نــه تـنـخـوا.

نه لــه چـا سره عــناد لـري، نه د چـا مـراعـات کوي.

نــه د چــا مــخ ګــوري، نــه د چــا ځــټ. نــه زورور پـيـــژني، نــه غــريــب.

نــه سفــارش مـنــي، نــه تـمــلــق اوري، نـه چـا تـه خانـدي، نـه چاتـه وچـولی تريووي.

پوهېږئ داحاکم څوک دی؟ هــو! قــانــون او عــدالت دی.

(ارواښاد ګل پاچا الفت)

---

- شاګردان دې يو څو ښه حاکمان په ګوته کړي.
- زده کوونکي دې د ښه حاکم په صفتونو په ټولګي کې خبرې وکړي.

# شعر

راشه مــه کــوه لــه چـــاســره جـفـا　　لږ ژونـدون دی ضـــایع کېږي بـــې وفـا

په دنیا کې هـیڅوك نــه دي پاتې شــوي　　واړه تـلوني دي کـه نـــن دی کـه سـبـا

دا یـاران چـــې نـن وتـاوتـه جـلـوه کـا　　په دوه ورځـې پس بـه واړه شـــي فـــنا

که دنـفـس دپـاره سل مـحنـته وکـړې　　یو مـحنـت بـه دې پـــه کارنـه شي فـردا

کــه یــوه دانـــه دوړې پـه لاس ورکـــړې　　هــم دغــه بـه دې تــوښــه شي دعقبـا

که یو څاڅکـی او بـه تږي لـره ورکـــړې　　ددوزخ او ستـــا تـرمنځ بـه شي دریـــا

که یو ځله سر دخدای ج په لوري ټیـت کړې　　پـه قیـامت به سر بـلند شـــې تـر هـر چـا

که ژوندون دی خو هم دا دی په جهان کې　　چـــې لــه چـا سره تـیـریـږي پـه خـنـدا

په محنت په مـشـقـت ملا مـاته ښــه ده　　نـــه حـرامـه همیانـۍ دچـا تـر مـــلا

ګونګی ښه دی چې بې کام و بې زبـان وي　　نـــه چـــې ژبـــه شي په بد ویل ګویا

د جاهـل دهـمـدمـۍ نـه بــه بـهـتر وي　　کـــه بـه چـا ســـره همدم وي اژدهـــا

چې د ورور او دعــزیز پـرې زړه ازارشـي　　حـاصـل مــه شـــه هـغه خپله مدعـــا

زه رحمن له چا شکوه شکایت نه کـړم

نشته بل دوسـت ا ود ښمن زما بې تـا

(رحمان بابا رح)

# غوره ویناوې

۱- هسې ربښتینې ملګرې ومومئ چې په ښه ورځ مو مجلس پرې ښایسته وي، اوپه سخته ورځ مو ملاتړ شي.

(حضرت عمرفاروق رضي الله عنه)

۲- هر څوك چې زموږ عیبونه راښیي پاك خدای ﷻ دې پرې ورحمیږي. (حضرت عمر فاروق رضي الله عنه)

۳- غم او نهیلي دبېكاره خلكو صفتونه دي.

(حضرت علي کرم الله وجههُ)

۴- د سړي قدر د هغه دعلم او ادب په اندازه په كار دی، نه د هغه د شتمنۍ او نسب له مخې. (حضرت علی کرم الله وجههُ)

۵- هغه تلاوت چې بې فكره كیږي، هغه عبادت چې په بې پروايۍ سرته رسیږي او هغه زده كړه چې بې فهمه وشي، هېڅ خیر او بركت په كې نشته. (حضرت علي کرم الله وجههُ)

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| عیبونه | نیمګړتیاوې |
| اعتماد | باور |
| تلاوت | دقرآن مجید لوستنه |
| عبادت | رب پالنه |

# زده کـــوونکو تــه

اې تـــنـکو غـــوټـيو او ښــــايسـته ښکـلـــو ګـــلانـــو
دنـــن ورځـــې کـوچـنـيانو دســبـــا ورځـــې ځـــوانــــانو

اې ددې وطــــن بـــــچـيـو درنــــه ځـــار شـم ګـــلاليـو
بـــاغ او بــڼ دخپـلـواکـــۍ کې نــغـــــمه ســازوبـــــلبلانـو

دا وطن ســتـاســـــو وطــن دی داچـــمن ستاســـو چـمـــن دی
دغه ستـاســو کـلـــــی کـــــور دی د دادا نـيکه مـــسکن دی

xxxx

ويـنـم سـتـــاســــــو په څېرو کـــې غـيرتـــونـــه دپــــلرونو
ســــتاســــــــو ســـترګـــو کـــې ځلېږي عظمـــتونـه د پلرونو

دوطــــن ادې رنـځـوره ده پــــه ځـــای پــرتـه مـــجبـــوره
يـادوي تاســـــو تــــه واورئ غيـــرتـــــونـــــه دپـــــلرونـــو

جګــــــېدی نــه شي له ځايه رنـګ يې زيــړدی تـښتــېـــدلی
اســويــــلي کــاږي لــــه خـــــولــې نــه نـوره نشي ګـــړېدلی

(نصرالله حافظ)

---

- هر زده کوونکۍ دې د هېواد د محبت او آبادولو په باب په وار سره څو خبرې وکړي.

# متلونه

۱- خدایه! لوی مې کړې لویي مه را کوې.

۲- له لوږې مړشه خو د منت دارو مه خوره.

۳- دورغوي تنها که مرغلره ده.

۴- اول سلام پسې کلام.

۵- دکبر کاسه نسکوره ده.

۶- انسان داحسان تابع دی.

۷- اور ته خپل او پردی یو دی.

---

- زده کوونکي دیگ پورتني متلونه یاد کړي او په خپلوکتابچو کیگ دې ولیکي.
- هر زده کوونکي دې د پښتو یو یو متل ووایی.
- ښوونکۍ دې اوم لمبر متل "اورته خپل او پردی یو دي" په مثالونو واضح کړي.

# روغتیا

له ناروغۍ څخه خلاص بدن او سالم فکر صحت او روغتیا ده یا صحت دبدن سلامتۍ او جوړتیا ته ویل کیږي.

دښه کار کولو، زده کړې او ښه ژوند تیرولو له پاره روغتیا ډېره ضرور او ارزښتناکه ده. که صحت او روغتیا و نه لرو نه شو کولی چې په سمه توګه کار وکړو یا زده کړه او تعلیم وکړو.

د صحت او روغتیا له پاره زموږ وجود درې ډولو اساسي خوړو ته اړتیا لري.

۱- دوجود جوړوونکي خواړه : هغه خواړه دي، چې زیات پروټیني مواد ولري لکه غوښه، کبان، هګۍ، شیدې، سابه، غلې او دانې لکه لوبیا، دال، نخود او نور.

۲- د وجود ساتونکي خواړه: دا هغه خواړه دي چې ویټامینونه او منرالونه ولري. لکه مېوې او سابه.

ویټامینونه، لکه: اي، بي، سي، ډي. او منرالونه لکه اوسپنه او کلسیم.

**۳- د انرژي جوړوونکي خواړه:** داهغه خواړه دي چې د وجود له پاره انرژي جوړوي، په وجود کې ذخیره کېږي او د وجود د فعالیت او کار له پاره په مصرف رسیږي. لکه قندونه، غوړ او شحمیات.

دښه صحت او روغتیا له پاره له ښو خوړو پرته د پاکوالي ساتل هم یو اصلي او اساسي جز دی، چې بدن له ناروغیو څخه ساتي لکه د لاسونو، غاښونو، ټول بدن او جامو پاکوالی. لنډه داچې روغ بدن دخدای ﷻ لوی نعمت دی، چې په ساتلوکې یې باید زیاته پاملرنه وکړو.

---

سپارښتنه :

- ښوونکیٔ دې زده کوونکي پوه کړي چې خپل ځان پاک وساتي.
- ښوونکیٔ دې له زده کوونکو څخه وپوښتي چې په پورته دريو موادو سربېره نور څه شیٔ د روغتیا دپاره ښه دي؟

# کینه او رخه

یوه ورځ ښوونکي په دې اړه خبرې وکړې چې کینه ښه کار نه دی او کینه ګرسړی ټول عمر غمجن او خپه وي، بیا هر زده کوونکي په خپل وار ددې بد او ناوړه کار په اړه یو څه وویل کله چې بریالي ته وار ورسېده درخې او کینې په اړه یې داسې وویل:

"ماله خپلې وړې خور زرغونې سره تل کینه کوله، کله به چې زرغونه له ښوونځي څخه کورته راغله او دخپلې ازموینې نومرې به یې مورته ورښوولې نو ما ته کینه راتله. ځینې وخت به مې دهغې دنومرو خبرتیاپاڼه هم څېرله پلاربه ما او زرغونې ته بوټان اخیستل نو ما به رخه کوله او نه مې غوښتل چې زرغونه دې نوي بوټان ولري. یوه ورځ پلار ماته یوه جوړه جرابې او زرغونې ته یو ښه کمیس واخیسته ما دخپلې کینې او رخې له امله ډېر وژړل دژړا په پای کې مې وویل، چې ماته هم کمیس واخلئ هر څومره چې خپل مور او پلار راته وویل چې ستا کمیسونه ډېر دي، هېڅ اړتیا ورته نه لرې. ما یې خبرې نه اورېدې په پای کې مې پلار بازارته ولاړ او ماته یې هم یو کمیس راوړ.

هغه وخت زه دتبې له امله ناروغ پروت وم. پلار مې لـه ځانه سره یـو کتـاب هم راوړی و زمـا مـور تـه یې وویـل" دا کتـاب مـې پـه ډېـرې سختۍ پیداکړ، ډېر ښه کتاب دی. دا کتـاب بایـد زمونږ کوچنیـان ولولي کله چې شپه شوه ټول ویده شول ماته خوب نه راته، پاڅیـدم، څـراغ مـې روښـانـه کـړ، نومـوړی کتـاب مـې ولوست دکتـاب پـه یـوه برخه کې لیکل شوي وو: "کینه ګر سړی هم پـه دې نـړۍ خپـه وي او هم په اخرت کې عذاب ویني. کینه ګر هم خپل ځان تـه تـاوان رسوي او هم نوروته. کیدای شي چې کوچنیان دکینې په زیان ونـه پوهېـږي او کینـه وکـړي، خوکلـه چې لـوی شـي پوهېـږي چې کینـه ډېـر نـاوړه کـاردی. دکیـنـې پرځـای بایـد انـسان مهربـان، خیـر غوښتـونکی او دښو خویونوخښتن وي."

دکتاب تر لوستلو وروسـتـه مـې لـه ځـان سره فکـر وکـړ، رښتیـا چې کینه او رخه بد کـار دی، پـه خپلو پخوانیـو کړو پښیمانـه شوم، پـه زوره زوره مې وژړل، زما دژړا پـه غږ زرغونه له خوبـه راویښـه شـوه، ماته نږدې راغله او ویې ویل:

"بریالیه  وروره! ولې ژاړې ؟ زما اوښکې یې پاکې کړې، او ویې ویل، "مه خپه کېږه ان شاء الله ښه کېږې، زرغونه په دې نه پوهیده چې زه کینې ناروغه کړی یم سبا هماغسې ناروغه ښوونځي ته ولاړم ټوله ورځ مې فکر کاوه، کله چې بېرته کورته راغلم یوه ښکلې کتابچه مې واخیسته او دانعام او ناغې په ډول مې زرغونې ته ورکړه، بیامې ورڅخه ښننه وغوښته، مور چې زما داکار ولید ډېره خوشحاله شوه. له هغې وروسته ما له زرغونې سره دیو مهربان او مینه ناك ورور په توګه چلند کاوه، له زرغونې سره زما کینه بېخي له منځه ولاړه، مورږ اوس دواړه یو پربل ډېر مهربان او زړه سواندي یو او دواړه په خوښۍ او خوشحالۍ ژوند کوو.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکي وهڅوي چې دحسد او کینې دبدمرغیو په هکله خبرې وکړي.
- زده کوونکۍ دې د کینه ګرو بد مرغۍ په خپل کلي او کور کې تبلیغ کړي.

# رښتیا

څه شی چې د وګړو په منځ کې د انسان شرف او اعتبار ساتي هغه رښتیا ویل او له دروا‌غو ځنې ځان ساتل دي. لکه چې وايي:

هر شی چې خام شي پخېږي مګر انسان چې خام شي، بیا نه پخېږي دلته دانسان له خامۍ څخه موخه دروغ ویل او په دروغو مشهوریدل دي.

که څوك یو ځل په دروغو مشهور شو، هغه که بیا رښتیا هم ووايي څوك یې خبره نه مني او باور پرې نه کوي. ځکه چې دمرغلرې یو اب دی چې اب ترې لاړ شي بیا هېڅ ارزښت نه لري.

خبره هم لکه مرغلره ده، چې په دروغو یې ارزښت له منځه ځي که دروغجن سړی له چاسره محبت کوي او ځان ورته ملګری ښکاره کوي بیا هم پرې څوك باور نه کوي او خبره یې دروغ ګڼي همدغه سبب دی چې درواغجن سړی ملګري نه شي پیداکولی او خبره یې هېڅ ارزښت نه لري.

دیوه چرګ پر اواز باندې مسلمانان دلمانځه له پاره له خوبه راپاځېږي، باور ورباندې کوي چې سبا دی. مګر ددرواغجن په

قسمونو او لوړو څوك باور نه کوي اونه يې مني، نو ويلی شو چې دروغجن په يوه ټولنه کې هېڅ ارښت او درنښت نه لري.

دروغجن سړی که هر څومره ډيرې پيسې ولري يا دپوهې او لويې مرتبې څښتن وي، خلکو ته سپك ښکاري او بې وفا ورته جوتېږي، سړی بايد په دې وپوهېږي چې دروغ په هېڅ وخت کې نه چلېږي او ددروغو مزل لنډ دی.

که څوك غواړي چې په خپل ژوند کې بريالی او لوړ مقام ته ورسېږي او خلك ورباندې باور ولري، نو غوره دا ده چې ځان په رښتيا ويلو روږدی کړي او د يو رښتينې انسان په نامه ځان خلکو ته ورو پېژني.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| شرف | عزت اوحيثيت |
| مرغلره | مرواريد |
| ټولنه | اجتماع |
| وقار | عزت |

- زده کوونکي دې پورته لغات په پښتو جملو کې استعمال کړي.

# وايي چې

دسقراط په وخت کې يو سړی دجنګ له ميدان څخه وتښتېده نوسقراط ورته وويل:"داډېر شرم دی"

هغه سړي وويل: که داشرم ونه منم نومرګ دی سقراط وويل، ژوند هغه وخت ښه دی چې په شرافت کې وي که دا نه وي نو تر بې شرافته ژوند مرګ ښه دی!

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دپورته کيسې په باب يو د بل څخه پوښتنې وکړي.

پوښتنه:

۱- دپورتني متن مطلب به څوك په ساده ژبه بيان کړي؟

# ملي يووالی

افغانستان د هغو ټولو افغانانو کور دی چې په دې خاوره کې اوسي. د دې هېواد هر او سيدونکی دافغان په نامه يادېږي او داسلام د واحد دين پيرو دی.

زموږ د هېواد ټول او سيدونکي د ګډ تاريخ، دود او د ستور درلودونکي دي نوښايي چې ټول لکه د يوې کورنۍ غړي شي او د ورورولۍ، مينې، محبت او يووالي په فضا کې سره ژوند وکړي. چې د يوه او بل په خوښۍ خوښ او په غم يې غمجن شي.

د اړتيا په وخت کی يو له بل سره مرسته وکړي. يومتل دی چې وايي له يوه لاسه ټك نه خېژي. ښکاره خبره ده چې که يو لاس هر څو په يوه او بله خوا ووهو ټك به ورنه، ونه خېژي. خو که بل لاس ورسره ووهو نو بيا به ترې ټك ووځي.

همدغه شان که د يو هېواد اوټولنې خلك په ځانځانۍ او بې اتفاقۍ اخته وي نه به سوکاله ژوند ووينې نه به ابادي او پرمختګ.

دټولنې او هېواد دپرمختګ او ابادۍ له پاره د يووالي او اتحاد شته والی ډېر ضروري دی، موږ او تاسو ته ښايي دخپلو هېوادوالو د اتفاق او يووالي له پاره هڅه او هاند وکړو.

---

- ښوونکی دې په زده کوونکو باندې د ملي وحدت ګټې بيان کړي.

# له هېواد سره مینه

افغانستان زموږ د ټولو هېواد والو ګډ کور دی.

زه لـه خپل هېواد سره مینه لرم. د ازادو او مېړنیو خلکو له خبرو او مرکو څخه یې د مېړانې او ایمانداری زده کړه کوم. زه دخپـل هېـواد دغرونو، دښتو او درو دښکلو منظرو په ننداره ډېر خوښېږم. دګران هېواد له اوسېدونکو سره ډېره مینه لرم.

دهېواد لـه ازادی څخه پـه مېړانـه دفـاع کـوم، د وطـن دازادی عـزت او نـاموس دسـاتنې پـه لاره کـې هـرې سـربښندنې تـه چمتـو یـم دخپـل هېواد دابادی او سمسورتیا له پاره زیار باسم په خپلو زده کړو کې ډېرې هلې ځلې کوم چې د علم او پوهې په ګاڼه سمبال شم او دهغې په رڼا کې د هېواد د لوړتیا او پر مختګ له پاره کار وکړم.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| مینه | محبت |
| سمبال | ترتیب اوتنظیم |
| سمسورتیا | ښېرازي، تازه‌ګي |

- زده کوونکي دې پورته لغات په پښتو جملو کې استعمال کړي.

سپارښتنه:

- ښـاغلی ښـوونکی دې دهېـواد دمینـې پـه اړه زده کوونکـو تـه بـشپړ معلومـات ورکړي او هم دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې دهېـواد دمینـې پـه اړه خبـرې وکړي.

# مېلمه پالنه

ای عزیزه! مېلمه ښه ګڼه له ځانه
چې مېلمه دی لوی عطا دپاك سبحانه
هر مېلمه روزي راوړي له خپله ځانه
بیا مرض او ګناه ټوله وړي له تانه
هغه څوك چې مو دښمن دلوی جبار وي
نومېلمه ته به دی تروش او ډېر په قار وي
مېلمه بوله زما ګرانه ډېر عزیز
چې رحمان ته عزتمن شې په لږ څیز
هر مومن چې دمېلمه عزت په ځان کا
نو خوشاله به خپل خدای له خپله ځان کا
دمېلمه نه که دې طبعه شي ملوله
نو خپه به شي له تا خدای اورسوله
چې مېلمه ته دې په ورین تندي نظر وي
دخالق دلطف په تا باندې ګذر وي
له تکلیفه لرې اوسه زما وروره
چې مېلمه په تاوانه چوي هیڅ زوره
عزت ورکړه دخپل توان قدر مېلمه ته
که کافر وي هم ور پرانیزه اوچته

که هوښیار یې غوټه مه اچوه دولت ته
چې مېلمه راشي ورته پاڅېږه او چته

نابللی دچا کور کې مېلمه نه شې
چې مېلمه دې کورته راشي خپه نه شې

هغه څوك چې دمېلمه ډېر احترام کا
په عالم کې به په خپله ځان نیك نام کا

چې مېلمه دې په کور راشي خاص او عام
نو فوري ورته راواخله خپل طعام

ای عزیزه هغه څه چې ستا په لاس وي
دمېلمه مخ ته یې کېږده که اخلاص وي

که داډېره وي یا لږه پروانشته
چې تکلیف زموږ اسلام کې په چا نشته

---

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| عطا | بخشش |
| جبار | زورور |
| قرباني | له یوشي نه تېرېدل |
| عزیز | ګران |
| هېواد | وطن |
| دفاع | مخنیوی، ساتنه |

# د چاپېریال ساتنه

د ژوند چاپېریال هغه ځای ته ویل کېږي چې په کې استوګنه کوو او یا زموږ د ژوند د ځای په شا وخواکې موجود دی لکه: زموږ کور او دکور شاوخوا ، ښوونځی، د ښوونځي شاو خوا باغونه، کښتونه او ټوله هغه سیمه او محیط چې زموږ د ژوندانه اړیکې ورسره دي د ژوند چاپیریال بلل کېږي. دغه دژوند چاپېریال په کلیوالي او ښاري ژوندکې سره توپېر لري. په ښارونو کې دخلکو او اوسیدونکو شمېر نسبت دکلیو تر او سیدونکو زیات دی په داسې ډول که فرضاً په یوه کلیوالي سیمه کې په یوه کیلومتر مربع کې دوه تنه اوسي نو په ښار کې په یوه کیلو متر مربع کې کېدای شي پنځه تنه ژوندوکړي.

ګواکې څومره چې په یوه ټولنه کې خلک زیات وي په هماغه اندازه د ژوند د چاپیریال ناپاکي زیاته او که مخنیوی یې ونه شي دناروغیو د پیدایښت سبب ګرځي.

د چاپیریال پاك ساتل د ناروغیو د پیداکېدو او مخنیوي له پاره ډیر ضروري کار او دهر چا دنده ده . زیاتې ناروغۍ له ناپاکۍ

څخه پیدا کېږي. لکه د نس ناستي او پیچش ناروغي چې د ناپاکو اوبو، خوړو او یا ناپاکو مېوو او سبو لـه خوړلو څخه پیداکېږي.

د چاپېریال دپاك ساتلو په لړکې باید خپل کورپاك وساتو . دمېوو پوستکي، زیات شوي خواړه، سابه او نور اضافي شیان د انګړ یا سرای په منځ کې ونه غورځوو. بلکې په یوه ځای یې را ټول او تر خاورو لاندې یې کړو. کـه دکور پـه شاوخوا یا انګړکې ولاړې اوبـه وي هغه وچې کړو او هغـه ژور ځایونـه چې اوبه پـه کې ډنډیږي لـه خاورو ډك کړو، ځکه دملاریا دناروغۍ غوماشې پـه ولاړو اوبـوکې اوسي چې دملاریـا د خطرنـاکې نـاروغـۍ د رامـنځ تـه کېـدو سبب کېږي.

د ښځنلو داوبو څاه ګانې هم د چاپېریال له ارزښتناکو څیزونو څخه دي چې دپاك ساتلو لـه پاره یې بایـد زیات کار وکړو. نظافت او پـاکي د ایمـان یـوه برخـه ده او د نـاروغیو د مخنیـوي لـه پاره ښـه او اسانه لاره ده.

---

- ښوونکۍ دې زده کوونکو تـه لارښوونه وکړي، چې خپـل ځان او چاپېـریال پاک وساتي.

# نصیحتونه

۱_ څښتن تعالی وپېژنئ، په ډېر اخلاص يې عبادت وکړئ، امر يې پرځای کړئ او هغه څه چې يې منعه کړي دي له هغو څخه ځان وژغورئ.

۲_ د علم او پوهې په حاصلولو او زده کړه کې ډېر کوښښ وکړئ چې نېکمرغه شئ.

۳_ څه چې مونه وي زده په پوښتنه يې مه شرمېږئ، ځکه هر څوك چې په پوښتنه کې شرم کوي ناپوه پاتې کېږي.

۴_ له بېکارۍ څخه ځان وژغورئ چې دخوارۍ او بدمرغۍ سرچينه ده.

۵_ صداقت اورښتيا ويل دځان عادت وګرځوئ.

۶_ له دروغو څخه ځان وساتئ ځکه که يووار په دروغو مشهور شوئ، بيا څوك ستاسې په رښتيا خبرو هم باور نه کوي.

۷_ که غواړئ چې دوستان مو ډېر وي دښواخلاقو خاوندان اوسئ.

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! پورته نصیحتونه په ياد زده کړئ، په خپلو کتابچوکې يې په ښکلي ليك وليکئ او په خپل ژوند کې يې پرځان عملي کړئ.

# صبر او زغم

الله ﷻ په خپل پاك كتاب قرآن كريم كې په وار وار خپلو بندګانوته دصبر او زغم لارښوونه كړې. لكه چې فرمايي: الله ﷻ له صبر كوونكو سره دى، الله ﷻ صبر كوونكي خوښوي كه موږ د الله ﷻ دغه امر عملي كړو په دنيا او آخرت كې به له ډېروستونزواو كړاوونو څخه خلاص شو.

هر انسان په ژوندكې له ځينو ستونزو او مخالفتونو سره مخامخ كيږي چې دحل په لاره كې يې صبر او زغم ستر رول لري او هغه ګڼ شمېر ستونزې چې په ورځني ژوندكې زياتې پېښېږي او د بې صبره خلكوتر منځ دشخړو سبب كېږي يوڅو يې دلته را وړل كېږي.

١ـ ديوبل دخبرو داوريدو زغم: ځينې خلك ديوبل دخبرو د اوريدو زغم نه لري، د يوبل خبرې غوڅوي چې دا كار د اختلاف او كړكېچ د رامنځ ته كېدو سبب ګرځي. د نورو خبرو ته غوږنيول له يوې خوا وينا كوونكي ته احترام او له بلې خوا د يو بل په وړاندې دغلط فهميو ليرې كيدل دي.

ځيني خلك له سوچ كولو او دبل په خبروله پوهيدو پرته يو بل ته وايي چې د ستايې څه ياستايې پرڅه كار چې د دغې كلمې

استعمال د خلکو قهر اوغوسه راپاروي او دخلکو ترمنځ د کړکېچ د زیاتوالي سبب کېږي.

۲_ یو بل ته پیغور ورکول هم بد کار دی. ځکه اکثریت خلك دپیغور په مقابل کې ډېر حساسیت لري او لږ خلك پېښېږي چې دپیغور په مقابل کې صبر او تحمل وښيي، بلکې د انسان غوسه لازیاتوي او ان د خلکو ترمنځ د مرګ او بر بادۍ سبب کېږي.

۳_ دخود خواهۍ، ځان غوښتنې او شهرت طلبۍ غریزه هم دنفرت او کرکې سبب کیږي او پایله کې یې خپګان، جنګ او جګړې رامنځ ته کوي.

۴_ ځینې کورنۍ په وړو موضوعګانو، لکه دماشومانو په جنګ حوصله له لاسه ورکوي او خبره د لویانو ترمنځ جنګ او خپګان ته رسېږي.

۵_ دیو بل دعیبونو لټول هم کله کله بې صبري رامنځ ته کوي او په پایله کې یې خپګان او جګړې رامنځ ته کېږي. چې د ژوند په چارو ناوړه اغېزه کوي او د ژوندانه ښیرازي له منځه وړي. موږ باید له زغم څخه کار واخلو، ځکه چې صبر او تحمل د اسلام د مقدس دین لارښوونه او د یوه معقول انسان له غوره صفتونو څخه ده.

# علامه سید جمال الدین افغان

علامه سید جمال الدین افغان دسید صفدر زوی، په (۱۲۵۶) هـ کال دکونړ داسعد آباد دسیدانو په یوې دینداري کورنۍ کې زېږېدلی و.

دافغانستان نوموړی نابغه او عالم دنړۍ له خورا مشهورو اسلامي فیلسوفانو څخه دی.

سید جمال الدین افغان دامیر شېر علي خان په زمانه کې ایران،حجاز، مصر،هند ،ترکیې او ځینو نورو اروپایي هېوادونو ته سفرونه کړي وو.

په دغو ټولو هېوادونو کې یې اسلامي تبلیغ کاوه، شاګردان به یې تربیه کول او دنړۍ مسلمانان یې یووالي او وروولۍ ته رابلل.

لنډه داچې سید جمال الدین افغان د اسلام د مقدس دین له پاره ډېر خدمتونه کړي دي، چې نن ورځ د نړۍ د ټولو مسلمانانو له پاره د ویاړ او د رناوي وړ دی. دغه ستر شخصیت په (۱۸۹۷ع) کال په ترکیه کې وفات او په (۱۹۴۴) کال یې کابل ته راوړ او د کابل پوهنتون په انګړ کې خاوروته وسپارل شو.

---

سپارښتنې:

- ګرانو زده کوونکو! دالاندې لغات په مناسبو جملو کې استعمال کړئ.

  اسلام، مقدس، یو والی، اساس،ستر.

- زده کوونکي دې د سید جمال الدین افغان شخصیت، پوهې او اسلام ته د خدمت په هکله په وار سره خبرې وکړي.

# زما وروره بزګره!

زماوروره بزګره مه کره بنګک او کوکنـــار

چـې نــه شي ګنـاهګـار

زما وروره بزګره بنګک کوکنار لري تاوان

خـراب نـه کـړي ايـمان

دنيا او په عقبٰی به شرمنده وې دسبـحان

لـــړ وپيــژنــه ځـــــان

ځان نه کړې ملامته ګوره ته دکردګـار

چــــې نشي ګناهګــار

ځان نه کړې مـلامته ته دبنګو په کـــرنه

کـوکـنارو پــه روزنـــه

دابـدتوکي زمـــوږ خرابوي ښکلې ټولنه

هــر څوك يې کـړي غـندنه

ترخه زهر ترې جوړشي خلك وژنې په دې کار

چې نـه شــې ګناهګار

هو زهر تـرې جوړيږي هيروييـن دهـغه نـوم دی

هر يو چا تـه معلوم دی

بل نوم يې دی پوډرچې پرې اخته خواراو مظلوم دی

همدغـه عـمل شـــــوم دی

ناپوه يې عملي دی ځان ساتـــلی ترې هوښيار

چې نشـــــې ګنـاهګـار

په دې زهــرو چې مــړ شي ته قــاتل يې اې دهقانه!

اې وروره مـســــلـمـانـه!

دبنګواو کوکنارو‌په ځای وکره پرېمانه

غـنـــم واوره له مــــانه

ستا وروړمحمد انور به در ته وايي ښه اشعار

چې نه شې ګـــناهګـــار

(محمد انور)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د نشې د زيانونو په هکله څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.
- زده کوونکي دې د خپل کور راو کلي شا او خوا نېشه يانو ته د نيشې زيان بيان کړي.

# انټرنټ

انټرنټ دمعلوماتو یوه لویه نړۍ ده چې دهر چا له پاره هر څه لري.

انټرنټ په ۱۹۶۹م کال دامریکا متحده ایالاتو ددفاع څانګې کمپیوټرونو ترېنت اوبیا له یوبل سره د نورو اړوندو ادارو د کمپیوټرونو د نښلېدو له کبله رامنځ ته شو. انټرنټ ته تراوسه پورې ډېر پروګرامونه جوړ شوي او لاجوړېږي، چې ایمیل (بریښنالیك) د انټرنټ تر ټولو لویه سرچینه ګڼل کېږي. وخت پر وخت په انټرنټ کې نوې اسانتیاوې راځي. څوکاله مخکې (انټرنټ په پیل کې) یوازې پیغامونه ورباندې لېږل کېدل اوس خو ټلیفون، تلویزیون، راډیو او هر څه ورباندې راځي انټرنټ په حقیقت کې د هغه نړیوال سیستم یا شبکې نوم دی، چې دنړۍ ټولې کمپیوټري شبکې یوه له بلې سره تړي.

انټرنټ په کم وخت کې له یوه ځای څخه بل ځای ته خبرونه انځورونه، معلوماتي لیکنې او پروګرامونه لېږد وي او ډېر کم لګښت پرې راځي. پرانټرنټ پوهیدل له موږ سره په ژوند کې د

مسلك، اداري او سوداګري چاروکې مرسته کوي. د انټرنټ له ډېروګټو څخه یوه ګټه دا ده هغه لیك چې موپخوا نورو هېوادو ته د پنځلسو ورځو اویا یوې میاشتي په موده کې د زرګونو افغانیو په مقابل کې لېږه اوس به یې له ډېرو کموافغانیو په مقابل کې په (۵ -۱۰) ثانیوکې لېږو.

پر(۲۰۰۰) م کال (۳۰۰) ملیونو خلکو له انتر نټ څخه ګټه اخیستله او اټکل دی چې په (۲۰۰۸) م کال کې به ډېر زیات خلك له انترنټ څخه ګټه واخلي.

---

- زده کوونکي دې د انترنټ یوه، یوه ګټه په ټولګي کې بیان کړي.

# د راز ساتنه

له ډېرو ښو او غوره انساني او اسلامي صفتونو څخه يو صفت د راز ساتل دي، څوك چې د بل انسان راز ساتي پوهان د داسې خلكو مجلس ډېر ښه ستايي، په هر مجلس كې يې قدر كوي او هېڅوك ورڅخه ځان نه ګوښه كوي.

له بلې خوا هغه څوك چې د مجلس راز دباندې باسي هيڅوك يې نه خوښوي او نه څوك دزړه حال ورته وايي. خلك يې په بدو يادوي، ناپوه يې بولي، بې مغزه ورته وايي او زيار باسي چې د داسې انسان له مجلس څخه لېرې وي.

دا خو لاڅه چې خپل خپلوان هم ورځنې بېزاره وي او خپل راز ورته نه وايي. كه په يو ځاى كې مجلس وي او په يوه كوچنۍ خبره ياموضوع بحث كېږي، نو د مجلس غړي داحق نه لري، چې له مجلس څخه بهر يې بل چاته ووايي او كه د مجلس له غړو څخه يوكس د مجلس له اصولو او قوانينو څخه مخالفت وكړي او د مجلس راز بهر بل چاته ووايي، نو له يوې خوا به په ټولنه كې خپل اعتبار او باور له لاسه وركړي او له بلې خوا به د مجلس دغړيو په وړاندې سپك او بې توله شي.

ددې له پاره چې خپله اسلامي دنده تر سره کړو، نو غوره دا ده چې د راز ساتلو حس په ځان کې وروزو او کوښښ وکړو چې د مجلس رازونه د باندې ونه وايو.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| صحبت | مجلس |
| دنده | وظيفه |

❖ ګرانو زده کوونکو! دلاندې جملو په تشو ځايو نو کې مناسبې کلمې وليکئ.

له ډېرو ښو او غوره صفتونو څخه يوصفت.................... ساتل دي.

لازمه ده چې د راز ساتلو .................... په ځان کې وروزو.

❖ دلاندې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچوکې وليکئ.

١. د راز ساتنه دانسان له پاره څه ګټه لري؟

# کولالي

یوه ورځ ښوونکي لـه خپلـو زده کوونکـو څخـه داسـې پوښتنـه وکـړه: هغه خلك چې ستاسې دکورونو په شاوخواکې ژوندکوي لـه تاسـو سره څه ډول مرسته کوي؟

اجمل ژړلاس پورته کړ او ویې ویـل: زمـوږ دکـور پـه څنګك کې یـو کولال او سبړي هغه زموږ له پاره له ختې څخه لوښي جوړوي.

ببرك وویـل: "بزګـر زمـوږ لـه پـاره غـنم، جـوار وریجـې او نـور شـیان کري".

انځرګل وویـل:" ترکـاڼ زمـوږ لـه پـاره لـه لرګیـو نـه کـړ کـۍ، ورونـه، مېز، څوکۍ او داسې نور شیان جوړوي.

ښوونکي وویل: ډیر ښه، تاسې ددوی دکارونو پـه اړه ښـه معلومـات راکړل. بازګل پوښتنه وکړه: ښوونکی صاحب ! څرنګه له ختو څخه داسې ښکلي لوښي جوړوي؟ مـوږ هم کـولای شـو چې لـه ختـو څخـه داسې شیان جوړ کړو؟

ښوونکي وویل: هو! خو داکار جلا پوهه او تجربه غواړي. ریدي ګـل وویـل: کـه مـوږ دکـولال کـار وګـورو ، نـو ښـایي چـې ځیـنې شـیان ورڅخه زده کړو.

ایمـل وویـل: معلـم صـاحب ! غـوره بـه داوي چـې مـوږ دکـولال دکـار ځای ته ولاړشو.

ښوونکي وویل: ډېر ښه، سبا به د کولال د کار ځای ته ولاړ شو. سهار چې زده کوونکي ټولګي ته راغلل، ښوونکي ورته وویل: د مخه تردې چې کولال ته ولاړ شو، کوم کوم شیان باید په پام کې ونیسو؟

اسد وویل: موږ باید دلارې په یوه غاړه ولاړ شو.

زمرك وویل: باید پام وکړو چې موټر مو ونه وهي.

سورګل وویل: ددې له پاره چې په کولالۍ کې څه شی مات نه کړو یا دبلې کومې ستونزې سره مخ نه شو لوښو ته به لاس نه وروړو.

ښوونکي وویل: ډېرې ښې خبرې مو وکړې، که چېرې موږ له دې خبرو سره سم چلند وکړو، له دې کتنې به ډېر خوند واخلو او ګټه به ځنې پورته کړو. بیا یې پوښتنه وکړه، تاسې په کولالۍ کې له کومو شیانو سره مینه لرئ؟

بازګل وویل: کولالي یاد خاورینو لوښو جوړول زده کوم.

زمرك وویل: زه د کولالۍ دڅرخ رسم کاږم.

ببرك وویل: زه غواړم چې د کولال څرخ ووینم.

ښوونکي وویل: رښتیا چې تاسې ښه فکر کړی دی، خو داخبره مه هېروئ، کله چې بېرته ټولګي ته راورسیدو بیا به دخپلې کتنې په اړه خبرې کوو.

زده کوونکي د لارې په څنډه کولالۍ ته روان شول. کله چې کولالۍ ته ورسیدل، ښوونکي وویل: وګورئ دلته دماتو کولالي لوښو شومره کودي پراته دي.

دكولال دكور په مخكې دكولال زامنواو لوښو كار كاوه، ځينو خټه په لرګيو وهله او ځينو خاوره چاڼوله ښوونكي له كولال سره روغبړ وكړ.
ببرك تر ټولو ور دمخه شو او پوښتنه يې وكړه: كولال ماما! داخاوره ولې په لرګيو وهئ؟
كولال وويل: ددې له پاره خاوره په لرګيو وهو، چې ښه ميده شي.
اجمل پوښتنه وكړه: ولې دوى خاورې چاڼوي؟ كولال وويل: ځكه چې وړې تيږې ځينې جلا او بېلې شي.
جمال پوښتنه وكړه: كولال ماما، داخاوره لـه كومه ځايه راوړئ؟
كولال وويل: له غره څخه يې راوړو. دا خاوره په هر ځاى كې نه پيدا كيږي، ځكه دخاورينو لوښو دجوړولو له پاره متينه خاوره او پخه خټه په كاروي.
زرغون وويل: خټه څنګه جوړوئ؟
كلال وويل: كله چې خاوره له وړو ډبرو څخه په چاڼولو جلاشي بيا اوبه په كې اچوو، چې ښه لمده شي. كله چې خټه ښه پخه شوه، نو بيا يې څرخ ته راوړو. كولال لومړى يو څه خټه را اخلي پرشګو يې بږدي چې په څرخ پورې ونه نښلي بيا نوره خټه را اخلي ديوه غټ مار په څېر يې جوړوي وروسته دختې مار پرڅرخ باندې بږدي.
سورګل پوښتنه وكړه: كولال ماما! لاس دې ولې دومره ژر ژر په اوبو لندوې؟

کولال وویل: ددې له پاره لاس په اوبو لندوم چې ختمه مې په لاس پورې ونه نښلي.
توريالي وويل: کولال ماما! دلوښي منځ ته ولې دومره په کراره لاس ورننه باسې؟
کولال ځواب ورکړ: ددې له پاره چې دلوښي منځ هم سم جوړشي، نو په کراره لاس ورننه باسم. ريدي وويل: وګورئ، څه ښه نقش يې وربانـدې وکښلو او څومره ښکلی لوښی ځنې جوړ شو. سورګل پوښتنه وکړه: کولال ماما دا منګی څو ورځې لمر ته ږدئ؟
ايمل پوښتنه وکړه: کله چې دا لوښي وچ شي، بيا پرې څه کوئ؟
کولال وويل: په داش کې يې ږدو چې پاخه شي. راځئ چې داش او بټۍ هم دروښيم. زلمي وويل: دابټۍ خو ډېره ژوره ده او يو پوړ لري. کولال وويل: نه دوه پوړه لري. لومړی لوښي په کراره د بټۍ په پاسني پوړ کې ږدو او بيا اور په لاندېني پوړ کې بلوو. دوه، درې ګېنټې وروسته لوښي په پاسني پوړ کې پخېږي. ايمل پوښتنه وکړه دا تاوده لوښي څرنګه له داش يا بټۍ څخه راباسئ؟ کولال وويل: ترهغه وخته ورته ګورم چې بټۍ سړه شي بيا لوښي ځنې را باسو.

زرغون ته سودا ورولوېده او ويې ويل: کله چې لوښي له بټۍ څخه را باسئ نو په خپله له دې ژورې بټۍ څخه څرنګه راوځئ؟ کولال وخندل او ويې ويل: په دېوال کې دا تاخچه وينې؟ په دې تاخچه کې پښه ږدم او راخېژم، زده کوونکو د کولال ماما له څرګندونو اوتجربو څخه ډېره ګټه واخيسته د تلو په وخت کې يې مننه ځني وکړه او کور ودانی يې ورته وواېه. ايمل وويل: موږ ډېر شيان په دې کتنه کې زده کړل، اوس ښوونځي ته ځو. موږ هم غواړو چې ستا په څېر له ختې څخه ځان ته ځينې شيان جوړ کړو. کولال وخندل او ويې ويل: ښه خبره ده، خو زما په خيال کولالي ډېر زيار او تجربه غواړي. تاسې هم کولی شئ، چې همدغه ډول ډېر کارونه وکړئ.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| کتنې | ليدنې |
| جلا | بېل |
| لوښي | ظروف |
| پوهه | علم |
| ترکاڼ | نجار |
| خوند | مزه |
| روغبړ | سترې مشې |

| | |
|---|---|
| مرسته | کومك |
| بزګر | کروندګر |
| تجربه | ازمایښت |
| مینه | محبت |
| مراعات | په پام کې ساتل |

سپارښتنې:

- له زده کوونکو څخه دې پوښتنه وشي، چې دا کیسه په خپله وینا سره بیان کړي او هم دې وهڅول شي ، چې دلوښو دښه ساتلو په اړه خبرې وکړي.
- زده کوونکو ته دې لارښوونه وشي، چې یو زده کوونکی دښوونکي ببرك، بل دا جمل او بل دجمال خبرې بیان کړي.
- زده کوونکي دې په ټولګي د بېلو بېلو کسبونو نومونه واخلي او خبرې دې پرې وکړي.

# سولـــه

پوه انسانان او پوهه ټولنه کولی شي خپل مخالفتونه په نرمه توګه حل او په سوله کې ژوند وکړي، خو هغه کسان چې دهغوی دپوهې سطح ټيټه او يا يې له خپلې پوهې څخه سمه ګټه نه ده اخيستې ددې پرځای چې خپلو مخالفتونو ته په اسلامي ملي طريقه او په پوهه دحل لار راوباسي زورته لاس اچوي، چې په نتيجه کې دټولنې دغړو او ډلوتر منځ تفاهم او سوله له منځه ځي، دخپلو غوښتنو او غرضونو له پاره زورته لاس اچوي، خلکو او ټولنې ته جنګ، وژنه او وينې تويونه منځ ته راوړي او په پای کې د ټولنې او خلکو سوله او آرامي له منځه وړي. په ټولنه کې دمخالفتونو دلرې کولو له پاره ښه لاره دا ده چې هر څوك بايد دانساني، ديني او دهېواد دقانوني معيارونو او اصولو مطابق عمل وکړي.

ددې له پاره چې يوه ښه او له مخالفتونو څخه لرې ټولنه ولرو دعلم او پوهې عامول يې ډېره ښه لاره ده.اختلاف او هغه احساسات چې مخالفتونو ته لمن وهي په هره اندازه چې وي بايد لرې کړو. عقل

او منطق په هغه غالب کړو، ځکه دا کار هم په شرع برابر دی هم په عقل هم دفرد په ګټه دی هم د ټولنې.

سوله د افرادو، ټولنې اوهېوادونو دټولنیز او اقتصادي پرمختګ له پاره ضروري ګڼل کېږي. څرنګه چې جګړه دانسان لـه فکر څخه سرچینه اخلي، نو دسولې لـه پاره ملاتړ هم باید دانسان لـه فکره څخه را ووځي. لـه نېکه مرغـه د سولې پـه لاره کې زموږ ټولنه تـر نوروټولنو مخکې ده. دتاریخ په اوږدوکې یې لوړ نوم اونښان ګټلی دی.

ډېرې خپلمنځي وړې اوغټې شخړې یې دسولې لـه لارې حل کړي دي. د هېواد په سویه لویې او پیچلې مسئلې یې د لویې جرګې لـه لارې په وار وار حل کړي دي. زموږ سوله خوښوونکي خلك د مرکې او جرګې له سوله ییزو پرېکړو څخه هېڅ وخت سرغړونه، نـه کوي چې دسولې دپایښت له پاره ډېره ضروري خبره ده.

---

- ګران زده کوونکي دې د سولې ګټې او زیانونه په ګروپي ډول په تولګي کې بیان کړي.

# د هيلو پسرلی

دادهيلو پسرلی دی ښايسته او ګلالی دی
شينكي نوي ټوكېدلي ماشومان پرې ګرځيدلي
ونې نوې غوړېدلي تنكۍ پاڼې يې سپړلي
بزګران روان دي كارته باغوانان روان دي كارته
ځوانان هم دكار له پاره پاڅېدلي دي بيداره
د وطن ابادي غواړي ځان له پاره ښادي غواړي
نوي نوي مكتبونه نوي نوي كتابونه
نوي نوي دي ښوونكي نوي نوي دي روزونكي
نوي نوي ماشومان ښوونځي ته دي روان
ښكلي ښكلي يې كالي دي پاك سوتره او ګلالي دي
پاك لاسونه پاك مخونه پاكې سترګې پاك غوږونه
زړونه ډك له اميدونو هم داشان له ارمانونو
را روان ښكلي مرغان همدارنګه بلبلان
غوړېدلي سره ګلونه هره خواشينكي باغونه

(نصر الله حافظ)

# دبې اتفاقۍ پایله

یوه ورځ چېرې په لاره تېرېدم
ناڅاپي دوني لاندې ودرېدم
دوه مرغۍ شوې پاس په ونه کې په جنګ
دواړه غونډې کلوله شوې په دارنګ
دغونډوسکې غوندې لاندې ولوېدلې
پیشو توپ کړ دواړه یې غبرګې ونیولې
چغ وپغ شور وفریاد یې وکړ ډېر
ولې څه کېده چې وخت وځنې تېر
نفاق دواړه دبلاپه خوله کې ورکړې
غلیم دواړه رېز مرېز زېروزبر کړې
که څوک کاندي اختلاف له خپله وروره
له دښمنه به پیمال شي له ضروره
فرض کړه داچې همیشه دښمن تیاردی
دفرصت او دموقع په انتظار دی

(قیام الدین خادم)

# د فکر او خيال قوت

يوفقير په يوه دښته کې پر دوو کراکښو پېښ شو، چې په تلوار تلل، فقير دوی ته وويل:

زما په خيال چې په دې دښته کې مو کوم اوښ ورك کړی دی، چې د اوښ ښۍ سترګه ړنده او کينه پښه يې ګوډه وه،دوی ورته وويل: هو، فقيروويل : لکه چې مخېني غاښونه يې نه درلودل؟ دوی وويل: هو، فقير وويل: لکه چې يو اندی يې دغنمو او بل يې دمېوې و. دوی وويل: هو.

لکه ته چې وايې همدغسې دی، په خپله يې راته را وله. ته چې کومې نښې نښانې ښيې، همدغه اوښ له موږ څخه ورك شوی دی او په لټه کې يې سرګردان ګرځو. فقير وويل: ما اوښ په سترګونه دی ليدلی، مګر ستاسې دځغاستې او ځينو نورو نښو نښانو څخه مې دا جوته کړه ، چې اوښ به مو ورك کړی وي او نومورې نښې به په کې وي.

کراکښو يې خبره دروغ وبلله له ګرېوان څخه يې ونيوه او حکومت ته يې بوته.

حاکم چې هر څومره وپلټهلو، داسې خبره يې څنې وانه ورېده، چې دده غلا ترې جوته شي، نو ويې ويل چې: دا فقير جادوګر دی او بايد جزا ووينې. فقير ورته وويل: زه غل نه يم اونه جادوګر.

ډېره موده کېږي، چې په دغو ميرو او بيابانو کې ګرځم او په دې يوازېتوب کې دشيانو دڅاراو دهغوپه اړه غور کوم، له خپلو کتنو څخه مې دامعلومه کړه، چې پردې لاره تر ما دمخه يو اوښ تللی دی او څرنګه چې دښي خوا واښه بشپړ پاتې شوي دي او کيڼې خواته پل نه و، نوله دې څخه داراته جوته شوه، چې اوښ په يوه سترګه ړوند او يوه پښه يې ګوډه وه او څنګه چې دوښو سرونه روغ پاتې شوي وو، نو په دې پوه شوم، چې داوښ مخکني غاښونه نه شته او څرنګه چې ښۍ خواته مېږيانو غنم چلول او کيڼې خواته مچان ټول شوي وو، نو پوه شوم چې نيم بار يې دمېوې اونيم باريې دغنمو دی.

ځرنګه چې دسړي پل ورسره نه و، نوله دې ځخه مې دانتیجه واخیسته، چې اوښ له خاوند ځخه تښتېدلی او په دې لاره تللی دی.
خلك د فقیر دفکر قوت او زور ته حیران شول، حاکم حکم وکړ چې دی دې پرېښودل شي.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| تلوار | عجله،بیړه |
| انډی | نیم باریاد یوه اړخ بار |
| ځغاسته | منډه |
| کوډګر | جادوګر |
| پل | خاپې (دپښو لګولو نښې) |

سپارښتنه:

- ښوونکی دې دښه فکر په اړه زده کوونکو ته ځرګندونې وکړي او له زده کوونکو ځخه دې وغواړي چې یوه ښېبه دخپل ټولګي دپاکوالي له پاره فکر وکړي او بیاهر یو خپل خیالات بیان کړي.

# شعـــــــر

دنیـــادار کـــه مـــستغني پـــه ســیـــــم وزر دی
هـــنر مــــندو ســـره ګـنــج دخـــپل هـــنر دی

بـــیهـــوده بـــه زورور وځـــــــان تـــــه وایـــي
د دنیـــا ســـړی کـــه هــــــر څـــــو زورور دی

هـــســـي مـــه وایـــه چـــې زه یـــم پـــه جـــهـــان کـــې
پیـــدا کـــړی خـــــدای ﷻ دســـر لـــه پاســـه ســـر دی

ځینــــــي ځیــنـي یــــي ولیـــان پیـــغمبران کـــړل
نــــه چـــې هــــر ســــــړی ولــــــي او پیغمـــبر دی

کـــه دعمـــر ورفـــتن تـــه څـــوك نـــظر کــــــړي
دابــــه وایـــي چـــې آفتـــاب دمـازدیـــګـــر دی

چــې یــې ســر پــه ځـمــکه ایــښی وي ویـارتـــــه
پـــه آســـمان بـــانـــدې خـــتلـــی لکـــه لـمـــر دی

دریـــا خـرقـــه خـــدای ﷻ مـــه کـــړه ورپـــه غـــاړه
رحمـــان کـــوږ دســـــتار تـړلـــــی قلـنـــــدر دی

(رحمان بابا)

---

سپارښتنې:

- ښـوونکی دې پورتـه درس دساده خبـرو پـه تـرڅ کـې زده کوونکـو تـه بیـان کړي.
- ګرانو زده کوونکو! لاندې بیت په نثر واړوئ.

هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې
پیدا کړی خدای ﷻ د سر له پاسه سر دی

- ګرانو زده کوونکو! درحمان بابا خوندور او خوږ کلام په یاد زده کړئ .

# د کال څلور فصلونه

کال څلور موسمه لري، چې هر موسم ته يې فصل وايي لکه:

پسرلی

دوبی

منی

ژمی

۱- پسرلی: دکال لومړی فصل دی. د پسرلي دفصل لومړۍ ورځې ته نوروز وايي. دنوروز ورځ، نوی کال له تېر کال څخه بېلوي. دحمل لومړۍ شپه او ورځ سره برابره وي.

شپه دولس ساعته او ورځ هم دولس ساعته وي. دپسرلي فصل درې مياشتې لري:

| | |
|---|---|
| ۱- وری | (حمل) |
| ۲- غویی | (ثور) |
| ۳- غبرګولی | (جوزا) |

دحمل له لومړۍ نېټې څخه ورځې اوږدېږي، چې دجوزا ترپای پورې دوام کوي.

دجوزا وروستۍ ورځ خورا اوږده او شپه يې خورا لنډه وي. په پسرلي کې هوا معتدله ، نرمه او ښه وي. کښتونه شنه کېږي، بوټي او ونې غوټۍ کوي، دونو پاڼې ورځ په ورځ لوېږي غرونه، رغونه او دښتې شنې ښکاري، انسان چې هرې خواته وګوري، دشنو وښو، کښتو نو اورنګارنګ ګلانو په ليدلو خوښېږي.

۲- دوبی: دکال دويم فصل ته دوبی وايي، چې تر پسرلي وروسته راځي.

په دې کې هوا توده وي،په دې فصل کې زموږ دهېواد په ډېرو سيموکې توتان، منې، ناك، آلوبالو، ګيلاس او ځينې نورې مېوې پخېږي.
دوبى دبزګرانو دفصلونو درېبلو او راټولولو وخت دى. د دوبي موسم هم درې مياشتې دى:

١- چنګاښ (سرطان)
٢- زمرى (اسد)
٣- وږى (سنبله)

دسرطان له لومړۍ ورځې څخه ورځې په لنډېدوشي او بيا دميزان په لومړۍ نېټه دحمل دلومړۍ ورځې په څېر شپه او ورځ سره برابرېږي.

٣- منى: منى دکال دريم فصل دى، چې تر دوبي وروسته راځي.
په دې موسم کې هوا دپسرلي په څېر معتدله وي. انګور، انار، ختکي، هندوانې،پخېږي. په دوبي کي لومړى د ونو پاڼې ژيړې او بيا ورو، ورو توييږي.
خلك په دې فصل کې دژمي له پاره لرګي، سکاره او خوراکي شيان برابروي. منى هم درې مياشتې دى:

١- تله (ميزان)
٢- لړم (عقرب)
٣- ليندۍ (قوس)

دورځو لنډېدل دسرطان له لومړۍ ورځې څخه پيلېږي او دقوس تر پايه پورې دوام کوي. دقوس وروستۍ ورځ خورا لنډه او شپه يې خورا اوږده وي.
په دې وخت کې شپه څوارلس ساعته او ورځ لس ساعته وي.

۳- ژمی: دکال وروستي او څلورم فصل ته ژمی وايي. په دې فصل کې هوا سړه وي. ځینې ځایونه او غرونه په واورو پټ او اوبه یې سړې وي. خلك دژمي ديخنۍ له امله په خپلو کورونو کې صندلۍ او بخارۍ بلوي، پنډه او وړين کالي اغوندي. دافصل هم درې مياشتې دی:

۱_ مرغومی (جدي)

۲_ سلواغه (دلو)

۳_ کب (حوت)

ورځې دجدي له لومړۍ نیټې څخه دجوزا ترپای پورې ورځ په ورځ اوږدېږي.

دحمل په لومړۍ نیټه بیاشپه او ورځ سره برابرېږي. پر شتمنو مسلمانانو لازمه ده ، چې له غریبو اوبېوزلو سره هر وخت مرسته وکړي په تېره بیا دژمي په موسم کې.

---

پوښتنې:

۱. یوکال څو فصله دی، نومونه یې واخلئ؟

۲. دپسرلي دمیاشتو نومونه ووایاست؟

۳. دکال دکوم فصل په میاشتو کې شپه او ورځ سره برابرېږي؟

۴. تله، لړم، لیندۍ دکومو میاشتو نومونه دي ؟

۵. دورځو لنډېدل څه وخت پیلېږي او ترڅه وخته پورې دوام کوي؟

۶. دکال وروستی فصل څه نومېږي او دمیاشتو نومونه یې ووایاست؟

## بلنلیك

ګرانه وروره حمید الله جانه!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

د الله ﷻ لورېینه ده، موږ ټول روغ رمټ یو او ستاسې روغتیا له لوی څښتن ﷻ څخه غواړو.

دراتلونکې پنجشنبې ورځ د زمرك د واده نېټه ده. هیله کوم، چې تاسې هم دنوموړې ورځې په ۱۲ بجوله موږ سره په دې خوښۍ او مېلمستیا کې ګډون وکړئ.

په درناوي

حشمت الله

د نشه‌يي توکو پرضد مبارزې وزارت

دکوکنارو کښت اود مخدره موادو قاچاق، تروريزم، اداري جرمونه اوفساد غښتلي کوي اوزموږ دګران هېواد دټولنيزې اواقتصادي بيا رغونې خنډ ګرځي.

د کوکنارو کرل او نشه يي توکي کارول ستاسې کورنۍ او ټولنه له منځه وړي .

په نيشه يې توکود روږدو خلکو د بدن مقاومت ضعيف وي او تل ناروغه کيږي.